سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۱۰/۰۷

# انجام

ماته ستا امام پنجاب، معلوم دی اشنا پام کوه

ماته د اسلام قصاب، معلوم دی اشنا پام کوه

ماته څه؟دنیا ته هم،معلوم دی دشیطان مُرید

ماته یی هرکلام کتاب، معلوم دی اشنا پام کوه

پام کوه ملا چی، جوړوی درنه د خدای دبنمن

ماته یی مرام حساب، معلوم دی اشنا پام کوه

ځان ورته ځرګند لکه، مخلص کړه ګوندی پوه به شی

ماته یی سرسام خواب، معلوم دی اشنا پام کوه

پام چی ته غلام د بل، غلام د دروازی نه شی

ماته دا غلام جناب، معلوم دی اشنا پام کوه

نه رسی منزل ته هغه بار چی کوږ ترلی وی

ماته دا ناکام ثواب، معلوم دی اشنا پام کوه

ډیر یی ستا په شانته، کلیوال دوزخ ته ولیږل

ماته دا بدنام عذاب، معلوم دی اشنا پام کوه

خوک چی اخته شوی، د وطن په دبنمنی کی دی

ماته یی انجام خراب، معلوم دی اشنا پام کوه

اکتوبر ۲۰۱۹/۶

تورنتو ـ کانادا

S_klewal_anjaam.pdf



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com